سر تور ملنګ ۲۰۱۳/۱۰/۱۱

# د قدرت د نیولو لپاره نوی ایتلافونه!

د ایتالیا مشهور فیلسوف ماکیاولی د ۱۵ قرن په وروستیو او د ۱۶ قرن په شروع کی د مکیاولستی فلسفی بنیاد کیښود هغه په دی عقیده وو چی د قدرت د اخیستلو لپاره باید د هری لاری نه استفاده وشی او ضرور نه ده چی اخلاقی، مذهبی یا نورواصولو ته درناوی وشی.

ماکیاولی عقیده درلوده که یو زمامدار و غواړی چی په قدرت کی پا ته شی او همیشه بریالی وی باید له هیڅ ډول خشونت او ظلم نه و نه ویریږی ځکه بدون له هغو د دولت ساتل غیر ممکن دی. هغه د قدرت د دوام لپاره کولای شی خلک ووژنی، ترور یی کړی، خیانت او تقلب و کړیاو ټول اخلاق، مذهبی او نور اصول چی د هغه د لاری خنډ کرزی تر پښو لاندی کړی. ولی هر و خت باید خلکو ته د خدمت او صداقت خبری وکړی او خلکو ته داسی وشیی چی هغه شپه او ورځ د خلکوپه خدمت لګیا دی.

اوس به را شودی ته چی په دا تیرو دریو لسیزو کی زموږ جمهور رئیسانو او په اصطلاح جهادی مشرانو او قومندانانو د ماکیاولی ټول وصیتونه یو په یو نه دی عملی کړی؟ زما په اند خو دوی ټولو هغه کارونه کړی چی ماکیاولی یی سپارښتنه کړی ده د قدرت د نیولو او ساتلو او شخصی شتمنیو د زیاتولو لپاره یی قوانین تر پښو لاندی کړی، خلک یی وژلی او ملی شتمنی یی چور کړی دی ولی بیا هم د خلکو په سترګو کی خاوری اچوی د عدالت او خلکو ته د ښه خدمت چیغی وهی. قدرت ته د رسیدو لپاره دین او جهاد وسیله ګرزوی او د جهاد په نامه د دولت ټول امتیازات لکه دولتی پوستونه، د بیت المال دارائی، دولتی ملکیتونه او حتی د خلکو شخص دارای د ځان حق ګڼی.

په دی ورځو کی چی یو ځل بیا د انتخاباتو بازار ګرم ده نو دا په اصطلاح جهادی رهبران او هغه ډلی چی د قدرت داخیستو په خاطرڅو واری په خپلو منځو کی سره و جنګیدل او داسی جنایات یی سر ته ورسول چی هلاکو چنګیز ګوډ تیمور او حتی د بشریت په تاریخ کی چا سر ته نه وو رسولی یو ځل بیا یو بل ته د دوستی لاسونه ورکوی او د خلکو نه غواړی چی دوی ته رایه ورکړی.

د ولسمشری ټاکنولپاره ۲۷ نفره کاندیدان را مخ ته شوی چی د دوی له ډلی یوازی یوه ئی ښځه ده. د جمهوری ریاست او معاونیتونو لپاره کاندیدان اکثریت ئی په اوسنی رژیم کی د خیل وو چی یا وزیر وو یا والی یا وکیل. دوی تر اوسه یوه هم خلکو ته خپله تګلاره نه ده بیان کړی ټول ائتلافونه په ژبنی او قومی لحاظ جوړشوی دی که رئیس پښتون ده نو معاونین یی حتماً تاجک، هزاره یا ازبک ده که رئیس تاجک ده نو معاونین یی پښتون، هزاره یا ازبک ده. د جمهوری ریاست لپاره داسی کاندیدان هم شته چی حتی د ولسی جرګی په انتخاباتو کی هم نه وو بریالی شوی ولی اوس جمهوری ریاست ته کاندید دی. د دی کاندیدانو له ډلی یوازی دری یا څلور نفره یو څه مطرح دی چی شاید خلک د هغو صندوقونو ته رایی واچوی هغه هم په قومی لحاظ ولی متباقی ټول په دی پوهیږی چی یوی ئی هم شاید همدغه یو لک رایی و انخلی ولی د دی لپاره چی خپل ځان مطرح کړی او په آینده کی ځان د یو لوړ مقام لپاره مطرح شخص و ګڼی نو ځانونه یی کاندید کړی دی. که د دی کاندیدانو د یو لک کارتونو لیست په دقت سره وکتل شی بیا به معلوم شی چی دوی حتی په د غو کارتونو کی هم تقلب کړی او هغه یی په پیسواخیستی دی هغه کاندیدان چی د ولسی جرګی په انتخاباتو کی ئی پنځه زره رایی نه درلودی اوس ئی دا یو لک کارتونه له کومه کړل.

اوس راځم یو څو ایتلافونه څیرم چی څرنګه د قدرت د نیولو لپاره سره یو ځای شوی دی:

**1 . د ډبل عبد الله ایتلاف**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا ایتلاف چی د شورای نظار، حزب اسلامی او و حدت اسلامی د ګوندونو د غړیو په واسطه را منځ ته شوی داسی ډندوری وهی چی ګویا غواړی په اینده کی د افغانستان خلکو ته خدمت و کړی، په افغانستان کی سوله راولی او د دیموکراسی نظام ټینګ کړی.

ډېل عبدالله د نظار د بدنامی شورا د مسعود د دفتر رئیس او بیا وروسته د نظار شورا په وخت کی د مسعود د خارجه چارو رئیس شو، محقق د حزب وحدت مشر ده او د مزاری په ځای ناست ده، انجنیر محمد خان چی اصلی نوم یی خیال محمد ده د حزب اسلامی یو فعال غړی ده چی څه موده یی د شورای نظار په بندی خانه کی هم تیره کړیده.

همدا پورتنی دری ګوندونه وو چی د کابل شار یی لوټی لوټی کړ او تر اویا زره بیګناه کابلیان یی ووژل ټولی دولتی اداری یی چور کړی او د افغانستان د یوی پیړی ملی اردو یی ړنګه او د اردو ټول تجهیزات ئی پنجشیر، بامیانو او چار اسیا ته انتقال کړل. مسعو د د نظار د بدنامی شورا مشر لمړی د جبل السراج له ترون وروسته د دوستمیانو او حزب وحدت په مرسته د حزب اسلامی سره و جنګیده چی بیا وروسته د اتحاد اسلامی په مرسته دحزب اسلامی، حزب وحدت او دوستمیانو سره و جنګیده او د کابل ښار یی لوټی لوټی کړ. د دی لنډه غرو بی دینو اوپلورل شویو ګوندونو ملیشو د کابل ښار په اوسیدونک داسی ورځی راوستی چی دبشر په تاریخ کی بل جنایت کار داسی کارونه نه ووکړی. د دی بی وجدانه ملیشو له لاسه جنکیو له آپارتمانونو ځانونه و غورځول او د کابل ښار په هره پوسته کی په جنکیو او میروښو ښځو تجاوزونه کیدل. کله چی د مسعود قواوو کارته سه ونیوله او مزاری و تښتیده په همغه ورځ مازدیګر زه یوی دواخانی ته د دوا لپاره ورغلم د نظار شورا یو لنډه غری چی کلا شینکوف یی په لاس کی وو دواخانی ته راغی او د دواخانی والا سره یی پوښتنه وکړه دواخانی والا د جنګ پوښتنه ځنی وکړه ده ورته وویل، "کارته سه را ګرفتیم مزاری ده چادری ګریخت"، او په ډیر افتخار سره وویل، که امروز سه تا دختر هزاره را ... که ۱۲-۱۵ -۱۶ ساله بودند.

کله چی د نظار شورا، جمیعت او سیاف لنډه غرو په خوشحال خانه مینه، کوټه سنګی او کارته سه کی په هزاره ګانو د دلوی په ۲۲-۲۳ تاریخ په ساړه ژمی کی حمله وکړه په زرهاو ماشومان ښځی او نارینه ووژل شول تر اتیا فیصده په زیاتو ښځو باندی د هغو د کورنی د غړیو تر مخ تجاوز و شو او په سلهاو جنکی له کورو وایستل شوی اوپغمان او دشت چمتلی ته یوړل شوی هزاره ګان باید د محرم لسمه و نه لمانځی بلکی باید د دلوی ۲۲-۲۳ ولمانځی د هزاره ګانو لپاره همدا کربلا وه. تاسو یوځل هغه رپوټونه، مصاحبی او عکسونه و ګوری او ولولی چی د نظار بد نامی شورا لنډه غرو په هزاره ګانو څه لوبی وکړی. همدارنګه هزاره ګانو به چی د نظار شورا نفر و نیول نو لومړی به یی په خوله کی متیازی وکړی او بیا به یی سر په توره ځنی پریکړ او د مړی رقص به یی لیدل.

زما په یاد دی چی په کابل کی د توپونو غړمبهار وو له بی بی مهرو او دشت چمتلی نه چار اسیا ویشتل کیده او له چار آسیاب د کابل ښار ویستل کیده. هره خوا مړی پراته وو د نظار د بد نامی شورا یو کس له موټر نه کشته سو او هغو خلکو ته چی د توپونو د لګیدو له ډاره د پل باغ عمومی زیر زمین ته کښته کیدل وویل( مه... کنځلی، ای بی وجدان و بی ناموس مردم کابل را کتی راکت میزنه ولی باید ایرا هم بفهمه که ګرفتن کابل یک خیال است ما سګ را قبول داریم ولی ګلبدین را نی و در مقابل هر راکیت او را صد راکت میزنیم).

د کرزی له راتګ وروسته یوه شپه د نظار شورا لنډه غرو د شپی عملیات سر ته ورسول او د کابل په ښار کی چی هر ځای د حزب اسلامی غړی وو ونیول او بیا یی آوازه خپره کړه چی دوی کودتا کوله.

نو زه حیران یم چی محقق او انجنیر محمد خان وجدان، غیرت، افغانی غرور او ایمان لری او که نه؟ که یی درلودای نو څرنګه به یی د عبدالله معاونیت منل. آیا محقق به خپلو هزاره ګانو ته څه وایی د کومو چی په کوټه سنګی کی په ناموسونو تجاوز وشو. ولی بیا همغه د ماکیاولی خبره ده چی قدرت ته د رسیدو لپاره په هر څه باندی پښی کیږده.

**د سیاف ایتلاف**

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سیاف هم قدرت ته درسیدو لپاره له هر څه نه تیر ده څه موده مخکی په همدی بهرنیو نشریو کی می و لوستل یو چا دسیاف د جهاد د وخت خبره کړی وه چی سیاف ویلی وو چی که تاسی ما له ظاهر شاه سره ووینی نو داسی فکر و نکړی چی ظاهر شاه مسلمان شوی ده بلکی باید پوه شی چی سیاف کافر شوی ده ولی کله چی ظاهر شاه کابل ته راغی نو سیاف داسی میلمستیا ورکړه چی د زرکو، هوسیو پسونو د کباباونو بوی یی تر کوټه سنګی میدان ښار او شکر دری پوری رسیده. سیاف چی د ربانی ملګرتیا کوله نو کله چی طالبانو میدان ښار و نیو زما په یاد دی چی سیاف طالبان د امریکا زامن بلل ولی کله چی آمریکایان راغلل نو سیاف دهغو سره یو ځای کار کولو ته ملا و تړله او د امریکایی ډالروپه زورئی نیم پغمان، دشت چمتله او نیمه آرغندی د ځان کړه. او هر کال د مسعود د مرګ په تلین نعتونه وایی. کله چی یی د مسعود سره یوځای په هزاره ګانو حمله وکړه نو د سیاف لنډه غرو د خوشحال خان مینی او کوټه سنګی نه د خلکو د کورو دروازی او کلکینی ټولی پغمان ته یوړی او لکه مخکی می چی وویل تر اتیا فیصده په زیاتو هزاره ښځو یی تجاوز وکړ اوپه سلګونو نوری یی د ځان سره پغمان او دشت چمتلی ته بوتلی.

سیاف د ربانی د مرګ به تلین ربانی د جهاد د قلا یو برج و باله او هر کال د هغه په ماتم نعتونه لولی. سیاف د یوه بل لوی جنګسالار اسمعیل خان سره لاس یو کړی او د ریاست جمهوری خوبونه وینی. سیاف څو ځله دا خیره د مسعود او ربانی د مړینی په تلین کی تکرار کړی چی ګویا دا وطن بی له مجاهدینو بل څوک نشی جوړولای او اسمعیل خان خو حتی وایی چی امریکا باید د دوی وسلی بیرته ورکړی تر څودوی یو ځل بیا د ۱۳۷۱ کال نخری او جنایتونه تکرار کړی. دوی دومره بی شرمه او بی حیا دی چی د دی په عوض چی د خلکو نه ښښنه و غواړی چی موږ جنایت و کړل موږ د خلکوپه ناموسونو تجاوز و کړ موږ په همدی تیرولسو کلو کی ملی شتمنی چور کړی ولی دوی دا ټول د ځان حق بولل ځکه ددوی په اصطلاح دوی جهاد کړی دوی د ځان حق ګڼی چی هر څه چی و غواړی هغه و کړی. که دی سیاف او اسمعیل خان نه څوک پوښتنه وکړی چی تاسو دا دومره دنیا له کومه کړه نو که دوی خیانت نه وی کړی، چور یی نه وی کړی دملت مال یی نه وی خوړلی نو دوی دی ولس ته د خپلی دارا یی ځواب ورکړی. کله چی د اسمعیل خان د دیرش میلیونو دالرو آسناد خپاره شول نو بیا کرزی لکه د نورو غلو پشان د اسمعیل خان ملا هم وتړله او هغه ته یی برا ئت ورکړ. اسمعیل خان چی په وزارت کی دیرش میلیونه ډالره غلا کوی که د رئیس جمهور مرستیال شو نو بیا به دیرش میلیارده غلا و کړی او که سیاف رئیس جمهور شو نو بیا به د خبلو ځمکو قباله تر غزنی ورسوی.

کله چی د شورا لپاره انتخابات کیده نو اسمعیل خان هرات ته تلیفون کړی وو چی هغه نفر باید و کیل نشی خکه هغه پښتون ده چی غږ یی رادیو آزادی خپور کړ. اما دا چی ولی سیاف آسمعیل خان خپل معاون ټاکلی هغه ځکه چی دوی دواړه مشترکی خصوصیات او ګټی لری لکه د بیت المال چورول، غلا اونور، دوی دواړه د جهاد په نامه په خلکو د کفر فتوا ورکوی. دوی دواړو دومره بیګناه انسانان وژلی چی حساب د مالیی وزارت یو تکړه مستوفی هم نشی کولای.

**د اشرف غنی ایتلاف**

زه د آشرف غنی په باره کی ځکه څه نه وایم چی هغه یو دانشمند ده هم لیاقت لری، هم تجربه هم جهانی ملاتړ ولی هغه له داسی چا سره ایتلاف کړی او داسی کسان د ځان معاونین ټاکلی چی هغه سواد نلری او دافغان ولس اوپه خاص ډول د پښتنو قاتلین دی او په شمال کی یی د پښتنو په ورکیدا پسی را اخیستی ده. زه د اشرف غنی مجبوریت وینم ځکه په دی وطن کی صرف د زور قانون چلیږی نه دوکتورا په کار ده نه علمیت، که اشرف غنی دوستم له ځانه لری کړای وای نو حتماً به ډبل عبدالله یا بل جنګسالا ر سره یو ځای کیده او هغه وخت به د پښتنو ضد جبهه او د فدرالی نظام جوړونکو او د افغانستان د تجزیه کونکو ډله قوی کیده. زما په اند که دوستم د دسیسو له جوړولو تیر شی او و غواړی د ژوند په وروستیو کی لا اقل د خپلو جنایاتو یوازی یوه کوچنی برخه هم د ښه خدمت په واسطه جبران کړی نو دا به ښه کار وی. زما په اند د شمالی ټلوالی د لنډه غرو قدرت ته د رسیدو د مخنیوی لپاره د دوستم اتحاد له اشرف غنی سره د پشتنواو ټولو قومونو په ګټه ده د جمیعت ګوند غړی او د نظار شورا نه سوله غواړی او نه سولی ته ژمن دی هغوی خپله خوشحالی د نورو قومونو په بربادی کی وینی ځکه د هغو رهبر همدا فلسفه دوی ته په میراث پری ایښی ده مسعود د پښتنو د له منځه وړلو آرمان له ځان سره ګور ته یوړ. مسعود په هزاره ګان باندی کربلا جوړه کړه او لکه مخکی می چی وویل په ناموسونو یی تجاوز وکړ، مسعود په کابل کی د تپه مرنجان او بالا حیصار ازبکان ټول قتل عام کړه، خلاصه مسعود پرته له پنجشیره نور هیخوک نه غوښتل. موږ اوس په دی هیله یوچی د اشرف غنی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ایتلاف له دوستم او سرور دانش سره یو د زړه له کومی ایتلاف وی او هدف یی په افغانستان کی د سولی را وستل وی او له دی ایتلاف سره نور ورونه قومونه هم یوځای شی البته موږ د نظار شورا نه دا غوښتنه نه کوو ځکه د هغوی ایتلافونه مو لیدلی د هغو چور، قتلونو او ملی شتمنیو د تالان داستانونه مو هم په سترګو لیدلی او هم مو اوریدلی دی.

دا چی انتخابات به تر سره شی او که نه لا معلومه نه ده خکه د انتخاباتو لپاه امنیت ته ضرورت ده آمنیتی وضعه ورځ په ورځ خرابیږی، همدا اوس له چار اسیا، ارغندی وړاندی آمنیت نشته دولتی مامورین همدا اوس میدان ښار وردګو پکتیا لوګر او نورو ولایتونو ته نشی تلای، په بدخشان، تخار، قندوز، میمنه، ارزګان زابل، قندهار او مشرقی ولایتونو کی همدا اوس دولت کامل حاکمیت نلری. کله چی امنیت نه وی نو انتخابات به څرنګه تر سره شی او که انتخابات و هم شی شاید یوازی په لویو ښارونو کی وی چی هلته به بیا صندوقونه ډک شی او د انتخاباتو مشروعیت به تر سوال لاندی راشی.

په در نښت
۱۹ میزان ۱۳۹۲



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ